مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان

۲۰۲/۱۲/۱۳

# غزل

بیا مي ذهن پردی شوی، ساه مي سترېږ سودایي ده
اوښکي ویني چي راڅاڅي، زما ان مینه رسوایي ده

ژوند نو څه دی؟ راته وایه! عندلیب خانه بدوشه!
ستا چغار دی له کوم سوزه؟ زما سانده تنهایي ده

بیا دي سترګي مړي راوړي، زما مخ ته ناز پرورۍ
ښکاري بیا مي نازولي! په نصیب کي جدایي ده؟

سپین یوسف دی په زندان کي، زلیخه ناسته عزیز ته
زموږ مینه بي کچکوله، ستا کعنان کي تاواني ده[1]

شین اسمان دی په شغلو کي، له سره اوره را وتلي
بیا ته لاړي تود مجلس نه، بیا د زړه اه اسمایي ده

که زه اوښکي نذرانه کړم، تا به خدای را پیرزو نکړي
زه خبر شوم خدای ته ګرانه، د مئینو عاجزي ده

ګورې زلفي دي نخیږي، لږ خو ویره له خدای وکړه
دا څه حال دی؟ په بنګړو دي، هم نیولي کلایي ده

بیا تري ساه اخلي که څنګه، بیا یي ولي سینه داغ ده؟
کوم فرمان نوی راغلی، بیا نسکور بوت بودایي ده

د زرینو په نظر کي، حیثیت بایلم په ورو ورو ورو
یو غزل راکړه زما ربه! ستا بیخی لویه خدایي ده

د هغه نقد به سم وي! خو زما له خولي که اوري؟!
دا مسره مي په نصب کي، د شیدا له شیدایي ده

۲۰۲۳/۳/۲ کابل

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ